انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱٦/۱۲/۱۸

# «مخلوق بی حیا مانند زن را در دنیا ندیده ام»

د روان کال د دسمبر د میاشتی په شپږمه نیټه می د آریانا تلویزیون څخه چی د افغانستان له دننه نه نشرات او خپرونی کوی، یوداسی خبر واورید چی لکه د نورو لکونو وطنوالو په څیر یی زه هم په شاک کی واچولم. ویاند اطلاع ورکړه چی په همدی ورځ د تخار په ولایت کی په کوم مناسبت یوه غونډه جوړه شوی وه. وینا وال چی ټول یی دولتی لوړپوړی چارواکی ول، د نارینه او ښځینه وو په ګډون دیوه چت لاندی ناست ول او هر ویناوال په خپل نوبت د ټاکل شوی موضوع په ارتباط خبری کولی، په دی طرز کی د یاد ولایت د علماو د شورا رئیس مولوی .............. هم د ستیج سر ته تشریف راوړ او د خبرو د موضوع نه بیرون یی و ویل چی « این زنها برای چه آمده است، برای گپ زدن یا برای نان خوردن؟ ما مخلوق بی حیا مانند زن را در دنیا ندیده ام ......» د دی خبری په اوریدو سره هم په غونډه کی د حاضرو نارینه او ښځو د وجود وینتان نیغ ودریدل او زما په څیر د اوریدونکو. څکه تر اوسه مونږ د راز راز خلکو خصوصاً د اسلام د مبارک دین له اصولو نه د بی خبره ملایانو له خوا د ښځو په وړاندی ډیر ناوړه ، ضد انسانی او ضد اسلامی خبری اوریدلی وی او ډیر وحشیانه اعمال مو آن تر سنګساره پوری لیدلی ول، خو دا ټولی ضد بشری او ضد اسلام ویناوی او اعمال د خاصو ښځینه و په هکله کی تر سره شوی ول او په دومره عامه توګه چی د بشر د ستری مور« بی بی حوا علیه السلام» نه را نیولی تر د هغی ماشومی نجلی پوری چی د همدی وینا په وخت کی یی دی دنیا ته سترګی را پرانستی وی په بر کی ونیسی، نه لیدلی او نه مو اوریدلی ول. دی ښاغلی په ډیر جرئت، ویاړ او غرور سره دا کرکجنه، ناوړه، ناولی، ناپاکه او د ټولو اخلاقی او تهذیبی نورمونو نه وتلی او د بی ادبی، بی حرمتی او بیعزتی او همدارنګه د انسانی، اسلامی او افغانی ټولو حدوداتو نه وتلی جمله چی د تکرار نه یی سړی شرمیږی، داسی بیان کړه لکه دا ناست ټول ښځینه او نارینه او د تلویزیون ټول اوریدونکی چی ورسره پوره پوره موافقه لری، دده د اکټ او حرکت نه داسی ښرګندیدله چی دا ښاغلی حق په جانب دی او سمه خبره کوی نو لاسونه باید ورته و پرکول شی.

خیر دا به پریدو چی دا ښاغلی مولوی صاحب څومره د اسلام په دین او د هغه په اصولو پوهیږی، څومره د مور او خور حق پیژنی، څومره د قرآن عظیم الشان په ارشاداتو پوهیږی او تر ټولو مهمه دا چی څومره د ټولنیزو او مدنی قوانینو نه خبردی او نور او نور؟؟؟؟ اساسی پوښتنه داده چی دا ښاغلی چی د تخار په ولایت کی د علماو د شورا د

رئیس په توګه، چې په اوسنی وخت کې د خپلوخلکو د پوهاوی ډیره درنه او حساسه وظیفه ور په غاړه ده او د دی هدف د لاس ته راوړلو پرځای داسی منفی او ضد انسانی وینا کوی د چا له خوا، د کوم تنظیم له خوا او د افغانستان د دوه سره دولت په منځ کې په کوم سر پوری د «غ» په سر پوری او که د «ع» په سرپوری اړه لری؟
د دی جناب د با جرئته دریځ نه داسی څرګندیږی چی ښځو ته د انسان په سترګه د نه کتلواو هغی ته د نارینه د وینځی او خدمتګاری په دریځ د قایلیدلو یوه داسی شبکه په افغانستان کی د ننه کار کوی چی تعلقات یی د لوړو دولت مدارانو سره دی او شاید چی د ځینو نورو هغو هیوادو ملاتړ هم ورسره وی چی هلته د ښځو ټولنیز موقف شدیداً د تهدید او کنترول لاندی دی او غواړی چی دا تهدیدات او قیودات په اسلامی نړی کی لاپسی پراخه کاندی.
یوه بله موضوع چی د دی نا اهله ملا له اظهاراتو نه د انسان په ذهن کی را ګرځی داده، چی دا په هیواد کی د د ین د سوداګرو خپل منځی مباحثی حتمی همداسی موضاتو ته ځانګړی کیږی چی په هغی کی د انسانی آزادیو د مخنیوی د پاره، د پلان جوړولو او هغو لارو لټون دی چی څنګه د زمونږ د قرآنی ارشاداتو او لارښونو نه بی خبر عوام خلک د خپل شوم هدف د لاس ته وړلو د پاره د احساساتو په را پارولو سره و کاروی، او که یی توان ورسیږی نو بیا به هماغه د جهالت د دوری به څیر ښځینه نسل ژوندی په خاورو ومنډی. زما په نظر دا یوه ډیر خطرناکه لوبه ده او که مخه یی و نه نیوله شی د دی امکان شته چی نه یواځی له ښځینه نسل نه، بلکی د ټولنی نه په یوه مخ ټولی مدنی ازادئ واخلی او یو کرت بیا دا زوریدلی، کړیدلی او د انسانی ژوند له مزایاو څخه محرومه ټولنه دپچو او غیر اسلامی ناوړو رواجونو په لومو کی بنده کړی.

که چیری د افغانستان د موجوده دولتی زعامت دری ګونی اجزاوی (حکومت، مقننه او قضایه قواوی) سالمی وی او د قرآني، انساني، مدني او د هیواد د اساسي قوانینو نه په اطاعت او مراعات باندی ځان مکلف ګنی او هغه د عوامو خبره «زیر کاسه نیم کاسه نباشد» نو په کار ده چی د ا جناب د ټولو انساني، اسلامي او مدنی قوانینو په پام کی نیولو سره په علنی توګه د محاکمی میز ته راکش کړی او په دی کار سره له یوی خوا د ښځو د تخریب شوی شخصیت اعاده وکړی، له بلی خوا دا په اثبات ورسوی چی دوی د یوی متمدنی نړی د انسانی نظام په دننه کی ژوند کوی او دریم داچی معلومه شی چی دا ډول حرکات ، له کومه ځایه افغانی ټولنی ته لکه د جراثیمو په توګه راوړل کیږی؟ که چیری د «غ» او «ع» په رهبری دولتی مسؤل ارګانونه د دی درانه سپکاوی موضوع سرسری وګڼی نو بیا دی د افغانستان خلک و پوهیږی چی دا دولت نه د دوی د عزت او حیثیت په غم کی دی او نه د دوی د انسانی کراماتو د ساتنی د پاره په درد خوری. همدا ډول زمونږ د وطن ټولی او په خاصه توګه هغه ښځی باید دوی ته دا د سپکاوی موضوع وړه ونه ګڼی چی تر یوه حده پوری د هغی د تعقیب امکانات ورسره شته دی. ځکه زما په خیال دا موضوع په همدی ځای نه پاتی کیږی او د دی ویره شته چی یو وار بیا افغان ښځینه نسل ته د تورو دیوالو د ننه د تور نغری نه پرته او د نارینه د هوس د پوره کیدو نه غیر نور کار ورپاتی نه شی او د داډول پلیتو او تاریکو ملایانو د لاسه د انسانیت له حلقی نه په وتو کی دی.

ښځه دی نړی ته، د حیا سره راغلی ده

ښځه لکه ګل ده، د ښکلا سره راغلی ده

ټول پیغمبران او رهبران ښځی روزلی دی

هری تاریکۍ ته د رڼا سره راغلی ده

ټه چی خپلی مور ته بی حیا وای انسان نه یی ÷

بیاچی سپکاوی کوی میرمنو ته افغان نه یی

ته هغه ملا یی چی شیطان درته سبق وایی

زوی د منافق یی په باطن کی مسلمان نه یی

پایان